زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پښتلس ورځنۍ جريده د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

چهارشنبه، (۱۵- ۱٦مه) ګڼه، دريمه دوره، پرله‌پسې (۳۵۹- ۳٦۰مه) ګڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د عقرب(لړم) د مياشتې ۲۸مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د ربيع الثاني د مياشتې ۲مه او د ۲۰۲۰ز.کال، د نومبر ۱۸مه.

دنيا ملک د هوس نه، ځای د ارمان دی
په هر زړه يې تير لک کړی دهجران دی
هر سړی چې ځنې ځي داغونه يوسي
هم په زر غمه اخته څو يې مهمان دی

اشرف خان هجري

د سمې ليکنې ګټې



څېړنپوه مولاجان تنيوال

سمه ليکنه يا سمه ليکنه کول د وييونو تلفظ اسانوي، د يوه ويي د معنا په پېژندنه کې ستره ونډه لري او يوه ليکوال يا څېړونکي ته دا توان ورکوي چې د کارونې ځای ځايګی او اړتيا يې وپېژني. که چېرې په يوه ليکنه کې پورتنيو او دې ته ورته ټکو ته پاملرنه وشي، نو کولای شو ووايو چې د يوې موضوع په باره کې مو سمه ليکنه کړې او يا لوستې ده.

د ځينو هېوادونو اکاډميک او علمي مرکزونه د سمو ليکلو پر اهميت پوه شوي دي او په دې برخه کې يې پنډ پنډ سيندونه (قاموسونه) ليکلي دي. د دې ډول سيندونو کتنه او لوستنه سړی د سهوې، غلطۍ کولو او خطا څخه راګرځوي. موږ ټولو ته دا جوته ده، هغه څوک چې د يوې موضوع په ليکنه کې سمو ليکلو ته توجه نه کوي لوستونکي يې د ويلو په وخت کې له ستونزو سره مخامخ کېږي، په اسانۍ سره يې د لوستلو څخه خپلې موخې ته نه رسېږي، وخت يې ضايع کېږي او زړه تورن کېږي، ځکه نو دا ډېره اړينه ده چې په ليکنه کې بايد د يوې ژبې املا او انشأ ته ژوره پاملرنه وشي. د سمې ليکنې د نومونې يا ويي لپاره په مختلفو ژبو کې بېلابېل وييونه کارول کېږي، په جرمني ژبه کې د سمې ليکنې لپاره د رېښت شرايبونګ Die Rechtschreibung نومونه کاروي. له دې نومونې لومړی برخه Das Recht رېښت په جرمني ژبه کې په ټاکلي ځای کې اېښودلو، ترتيبولو او پرېکړه کولو ته وايي. دويمه برخه يې داس شرايبن Das Schreiben ليکنې ته وايي.[1]

زما په اند خو که چېرې په يوه څېړنه کې سمې ليکنې ته جدي پاملرنه وشي د يوې ژبې د قوت او پياوړتيا لوری درنوي او د داسې پياوړتيا له مخې په يوه ژبه کې د نظم او دسپيلين خوا پياوړې کېږي او د ګډوډۍ او خپل‌سرۍ مخه نيول کېدای شي.

خپل‌سري او ګډوډي خورا ډېرې ستونزې را ولاړوي، د سمې او مناسبې ليکنې مخه ډب کوي او د يوې ژبې د ليکوالو، څېړونکو او لوستونکو ترمنځ ناندرۍ را پيدا کوي چې په هيڅ وجه او صورت ګټورې پايلې نه شي درلودلای.

دې ته مو بايد پام وي چې سمه ليکنه د ژوند په ټولو برخو کې خورا مهمه او د اهميت وړ ده، خو په دفتري چارو کې د لا ډېرې پاملرنې وړ ده. د دې يادونې ارزښت په دې کې دی، که د سمې ليکنې اصولو ته توجه وشي د يوې موضوع يا چارې دقيقې پېژندنې، سپړنې او څېړنې ته ۳مخ

د متلونو معنوي او مفهومي اړخونه



څېړنيار لطف الله صابر

متل د خبرو يوه لنډه جمله ده، چې د معنا له پلوه بشپړه او د مفهوم له مخې عامه وي، د متل بلاغت او فصاحت په دې کې دی چې د فورم له مخې لنډ او موجز، د معنا په لحاظ مستعار او کنايي، د افهام له مخې ساده او د افادې له مخې يې موخه واضح او څرګنده وي. متل اصلاً د يوه هوښيار او حکيم عاقلانه (مقوله) وي چې په قصدي يا اتفاقي ډول يې له خولې څخه راوتلې وي او بيا په ټول عام ولس کې عامه او جاري شي. (۱)

که د متل په اړه هر څومره تعريفونه راواخلو، د کلمو په تغيير چې يو له بله سره بېل، خو د مفهوم له مخې سره يو شان دي؛ نو په لنډه توګه ويلای شو چې متلونه د خپل زېږدي چاپيريال د يوه سالم فکر کوونکي نارينه يا ښځينه له خولې هغه لنډه تجربه زېږدي، له مفهوم او معنا ډکه راوتلې وينا ده، چې د يوه ترسره شوي يا ترسره کېدونکي ښه يا بد کار يا چلند په بهير کې د پاملرنې لپاره ويل شوې او ويل کېږي. د متل هنري ځواک په دې کې دی چې وار له واره په اورېدونکي يا مقابل لوري اغېز ښندي او همدا اغېز د دې لامل ګرځي، چې متل حرکت وکړي، له يوه وګړي بل او له بل ځای څخه بل ته وکوچېږي.

په متلونو کې کولتوري اړخونه، ولسي افکار او عامه ذهنيت او ذوق نغښتی وي. دا چې د پښتنو ژوند و ژواک په تجربو ولاړ دی؛ د دوی متلونه هم د تجربو يوه ښکلې پايله ده. پښتو ولسي ادب د متل منثورې او منظومې بېلګې دواړه لري، چې د منځپانګې ارزښت يې يو ډول دی. هر متل له يوې پېښې يا کيسې را زېږېدلی دی، تر شا يوه مخينه لري، چې د هغې په رڼا کې خپلې اغېزمنتيا ته انعکاس ورکوي. (۲)

محمد داود وفا ليکي: متلونه د خبرو او عمل د سمون لپاره د بحث په وخت کې ويل کېږي او خورا اغېزمن رول لوبوي. (۳)

په يوه متل کې تل درې شيان ډېر مهم دي، چې يو يې خوږوالی، بل لنډوالی او درېيم يې مقصد او مفهوم دی. (۴)

دلته په متلونو کې له معنا څخه زموږ موخه داده، چې د متل کنايي (دويمه معنا) را وپلټو او په هغو باندې خبرې وکړو. د متلونو ستر خصوصيت هم همدا دی، چې تل کنايي معنا افاده کوي، که چېرې متل خپله اصلي او حقيقي معنا څرګنده کړي؛ هغه بيا متل نه دی؛ د بېلګې په توګه که غر لوړ دی په سر يې لاره ده. د غله په ړيره خلی وي او داسې نور چې په يوه کې هم خپله لومړۍ معنا نه ده راغلې او نه يې هم د اړيکې تر منځ اصلي مقصد افاده شوی دی چې د متل حقيقي معنا راوښيي. دلته هر متل خاص کنايي مفهوم لري چې هم اورېدونکی پرې پوهېږي او هم د ويونکي مطلب وي او هغه د متل کنايي معنا ده او که چېرې کنايي معنا افاده نه کړي هغه متل نه شو بللی. په متل کې کلمه له خپله ځايه نه شي خوځېدلای او نه په ازادانه توګه بدلېدای شي، فعل يې د فاعلي کټګورۍ او د زمان (ماضي، حال، مستقبل) له مخې تغيير نه مني، د متل د يوې کلمې د اړولو په صورت کې امکان لري ټوله جمله واوړي، د متل په اړولو سره د هغه د ايجاز او اختصار ځای ممکن په څو جملو ډک شي. د متل په اړولو سره به جمله حقيقي معنا ورکوي نه مجازي او کنايي. (۵)

دا چې موږ په متل کې دويمه معنا لټوو، اړينه ده چې د مجاز، کنايې، قصر ايجاز، تمثيلي استعارې او تشبيه په اړه رڼا واچو:

مجاز: مجاز په لغت کې تېرېدونکي يا تېر شوي ته ويل کېږي، په اصطلاح کې مجاز هغه لفظ ته ويل کېږي چې د څه مناسبت او اړيکو له امله له اصلي ټاکل شوې معنا څخه پرته په بله معنا وکارول شي.

کنايه: کنايه په لغت کې پټولو او بدلولو ته ويل کېږي او په اصطلاح کې هغه ۳مخ

د ادبي او فرهنګي ناستو راپورونه

ګل رحمن رحماني

په افغانستان کې خبر جوړونکې پېښې ورځ په ورځې زياتېږي، اوس د دې هېواد په لرې پرتو سيمو کې هم پېښې او مناسبتونه د رسنيو له سترګو پټ نه پاتې کېږي. له يوې خوا د رسنيو په ځانګړي ډول د ځايي رسنيو د شمېر زياتوالی او له بلې خوا بيا خواله رسنيو په ځانګړي ډول فېسبوک ته د عامو خلکو پراخه لاس رسی د دې لامل شوی چې هر څه پټ پاتې نه شي.

دغه پراخه لاس رسي حتی د رسنيو اصلي مسوولیت هم ننګولی دی، په دې چې اوس هر فېسبوک لرونکی شخص د پېښو او خبر لومړی خپرونکی دی، رسنۍ بيا په دويم قدم کې پوښښ ورکوي، حتی ډېر ځله د هغوی په خپاره کړي تصوير او نا مسلکي جزئياتو هم تکيه کوي او بېړنی خبر ورکوي، د ننګونې خبره دلته چې رسنۍ بايد له هره اړخه د څېړنيز ژورنالېزم لمن را ټينګه کړي، اوس لومړی لاس او ناتوړل شوي معلومات د لوستونکو په لاس کې دي، هغه څه چې د خلکو له سترګو پټ پاتې دي، بايد د څېړنيز ژورنالېزم په هېنداره کې ځان را څرګند کړي.

پورتنۍ خبرې زما د اصلي موضوع يوه مقدمه ده، لکه پاس مې چې ياده کړه هره ورځ تکرارېدونکو پېښو د خپل نوعيت له توپير سره د خبريالانو د راپور ورکولو چاره هم ننګولې ده. د دې پېښو او خبر جوړونکو موضوعاتو يوه برخه په فرهنګ او ادب پورې تړلې ده، د فرهنګ او ادب په غوړېدو کې يوازې ليکوال، فرهنګيان، اثار او کره کتنه يې رول نه لري، رسنۍ او د فرهنګي چارو راپور ورکوونکي هم په کې مهم رول لري. زما په اند زموږ په ټولنه کې اوسنۍ ادبي-فرهنګي پېښې د خپل نوعيت له مخې په درې ډوله دي. لومړی به يې سرسري وپېژنو او بيا به ورڅخه د فرهنګي راپور پر اړتيا او زاويو هم خبرې وکړو:

۱ـ کلنۍ، مياشتنۍ او اونيزې ناستې

اوسمهال په هېواد کې ګڼې کلنۍ مشاعرې تر سره کېږي لکه نارنج ګل، انارګل، منې ګل، سنځل ګل، کونړ سيند، رڼا کلنۍ مشاعره، بادام ګل او نورې چې نن سبا يې د مالي اړخ د درنوالي له امله ۲مخ

د مقالې ليکلو لارې چارې

ليکواله: مېرمن رياحي

ژباړه: څېړنيار فضل الرحمن عليزی

دويمه برخه

د مقالې ليکلو د کلياتو ګام په ګام پېژندنه

غوره څېړنه: د مقالې ليکلو ۱۰ مهم ګامونه چې پر هغو باندې په پوهېدو سره کولای شو، يوه غوره او بې عيبه مقاله وليکو او له ليکلو سره سم په کورنيو او بهرينو معتبرو مجلو کې يې چاپ کړو.

مخکې له دې چې وغواړو يوه علمي مقاله وليکو بايد د مقالې ليکلو له اصولو او مهارتونو سره اشنا شو. په دې برخه کې کېدای شي ګام پر ګام مخ ته ولاړ شو او په هره برخه کې به د مقالې ليکلو له يوې برخې سره پېژندګلوي پيدا کړو.

لومړی ګام: د مقالې ليکلو کليات

مخکې له دې چې تاسې يوه ښه او په زړه پورې مقاله وليکئ، مهمه ده چې د مقالې ليکلو پر ځينو تخينکي مسايلو چې دلته يې د لومړي ګام په توګه له تاسې سره شريکوو ځان پوه او عملي کړئ.

ډېرې مقالې ولولئ: مخکې له دې چې د يوې مقالې په ليکلو پيل وکړئ، له خپلې موضوع سره اړوند مقالې انتخاب او مطالعه کړئ. د ليکلو طرز، د مقالې چوکاټ او دا چې د هرې برخې مطالب څنګه پيل کېږي او څنګه يې يوه برخه له بلې سره اړيکه پيدا کوي وپېژنئ. د بېلګې په ډول سريزه په څه ډول جمله پيل شوې ده؟ وروسته په کې څه ويل شوي دي او په پای کې د کوم ډول مطلب په بيانولو سره پای ته رسېدلې ده؟ د مطالبو د ليکلو ترتيب او يو له بل سره يې اړيکې ورکول ډېر مهم دي.

تمرين او ډېر تکرار: يو له هغو ټکو څخه چې بايد هم‌مهاله پاملرنه ورته وشي، دا دي چې هرومرو بايد يوه مقاله وليکئ. مهمه نه ده چې ستاسې په مقاله يا کار باندې څومره نيوکې کېږي، بايد ليکل وکړئ. کولای شئ چې د مقالې له ليکلو وروسته يې داسې يو چا ته د ليدلو او لوستلو لپاره واستوئ چې د مقالې ليکلو په برخه کې پوره تجربه ولري، تر څو په اړه يې خپلې کتنې تاسې ته ووايي. کومې کتنې يا ايرادونه چې هر ځل ستاسې د مقالې په اړه ويل کېږي، د دې لامل کېږي چې تاسو د مقالې ليکلو په وخت کې د مقالې ليکلو له ډېرو مهمو او وړو ټکو سره اشنا او پېژندګلوي پيدا کړئ.

نااليکلې ليکنه غلطي نه لري: له ليکلو مه ډارېږئ؛ ځينې کسان کمال ته د رسېدلو حس لري، هغه تل خپل ځان ته وايي چې لومړي بايد د مقالې ليکلو ټول ټکي زده او ياد کړم او وروسته خپله لومړنۍ مقاله وليکم. مګر زه تاسې ته وايم چې دا کار سم نه دی. ليکل تمرين او تکرار دی، ځکه تاسې په هر ځل ليکلو سره يو څو نوي ټکي زده کوئ. هره تېروتنه يو درس دی او تر څو چې تېروتنه ونه کړو، هيڅکله به هم څه زده نه کړو. تاسې د مقالې ليکل هم د پخلي په څېر تصور کړئ، د هر ځل خوړو له پخولو سره سم د لا ښه خوندورو خوړو د پخلو چل زده کوئ او په پای کې په زړه پورې او خوندور خواړه پخولی شئ. څومره چې د ليکلو ډېر تمرين وشي خامخا به يوه غوره ليکنه او مقاله وليکل شي.

هيڅکله هم د کمزورې مقالې په لوري مه ځئ: زه تاسې ته سپارښتنه کوم چې ډېرې مقالې ولولئ، حتی له هغو مقالو څخه تقليد وکړئ چې ډېره ساده موضوع په کې څېړل شوې وي، مګر اړينه ده چې د مقالې ليکوال هم په پام کې ونيسئ او هغه ته پاملرنه وکړئ. کوښښ وکړئ چې د خپلې څانګې اړوند د نامتو ليکوالو مقالې مطالعه کړئ او هغه د ځان لپاره يو سيمبول وګرځوئ، ځکه ډېرې مقالې چې خپرېږي، د جوړښت او د مقالې ليکلو د اصولو له مخې کمزورې دي، کېدای شي چې په مقاله ليکلو کې مو له ستونزو سره مخ کړي او د مقالې ليکلو له ناسمو اصولو سره پېژندګلوي تر لاسه کړئ. تل بايد په خپل مسلک کې د پياوړو کسانو مقالې ولولئ، تر څو په راتلونکي کې ۳مخ

سرمقاله

په کورونو کې د کتابتون د جوړولو اړتیا

کتاب او کتابت له ډېر پخوا نه رامنځته شوی خو په پخوا وختونو کې د نړۍ د بېلابېلو سیمو ترمنځ اړیکې کمې وې په هره سیمه کې یې د لیکلو ډول او پر هغه څه چې لیکل کېږي بېل وو. د ژوو له پوستکو، ختېنو تختو، د ونو تر پوټکو پورې په بېلابېلو څیزونو لیکل کېدل؛ خو د کاغذ په جوړولو سره کتابت پرمختګ وکړ او د زیاترو ټولنو ترمنځ عام شو.

زموږ تر وخته چې خبره رارسېده، د چاپ ډېر موډرن ماشینونه د نړۍ یو او بل سر ته رسېدلي وو؛ له نېکه مرغه زموږ هېواد کې هم کم نه و، ډېر کتابونه چاپ شول او د مینه‌والو تر لاسونو ورسېدل، خو موږ کتابونه لا سم پرانیستي نه وو، چې رسنیو او بیا د خواله رسینو په دودېدو سره د کتابونو مخونه مو بیرته ونغښتل. نورې نړۍ پر دې مهال د کتاب پر پاڼو خپلې سترګې ښې ډېرې خوړولې وې، که رسنیو خوا ته یې مخه هم کړه، کتابونو الماری‌ګانې یې هم ښې ډکې وې، مګر موږ لا کتابونو ته الماری‌ګانې نه وې جوړې کړې چې د موډرنو توکو راباندې کتابونه بیرته پرېښودل. سختې ورځې خو هغه وې چې د کوم کتابتون پر ځای به د موبایلونو پلورنځی جوړېدل. په لوېدیځ کې د کتابونو د مطالعې لپاره تر اوسه ډېر ښه دودونه شته، لکه یو کس چې کوم کتابونه نور نه لولي د واټ یوه څنګ ته یې ږدي او هر څوک د خپلې خوښې کتابونه را اخلي لولي یې او بیرته یې پر هماغه ځای ته راوړي. دا دود په اصل کې زموږ و، هغه وخت چې د کتابونو چاپ کم و، که چا سره به کوم کتاب و، نورو ملګرو به ترې وړل له لوستلو وروسته به یې بیرته پرې سپارل. په ځانګړې ډول هغه وخت چې په جوماتونو کې کوم نصاب تدریسېده، ټولو خلکو یې د اخیستلو وس نه لرل، هغوی به بیا یو او بل نه کتابونه په امانت ډول راوړل او چې و به یې لوستل بیرته به یې ور وسپارل. جالبه دا ده چې زموږ ښه دودونه لوېدیځ را نه پټ او موږ هېر کړل؛ اوس مو سترګې وځي چې په لوېدیځ کې څومره ښه دودونه دی.

د دومره مصروفیتونو ترڅنګ مطالعې فرهنګ راژوندي کول د هر پلار او مور دنده ده، په ښار کې به ډېر کتابتونونه وي، خو واټن به یې ستاسې له کوره څو کیلومټره وي، خو که یو موبایل پلورنځي ته ځئ کېدای شي ستاسې له کوره څو متره یا څو سوه متره ها خوا یې پیدا کړئ. دلته د اړتیا مسئله ده، تاسو کوم وخت د کتاب او کتابتون پوښتنه نه ده کړې او هغه کس پوهېږي که په همدې ځای کې کتابتون جوړ هم کړي د ورځې دوه یا درې یې نه شي خرڅولی.

د دې لپاره تر ټولو ښه لاره دا ده چې موږ په خپلو کورونو کې کتابتونونه جوړ کړو، په هغو کتابتونونو کې د ماشومانو او لویانو لپاره کتابونه ایښې وي، چې هر څوک له خپل ذوق او د پوهې له کچې سره برابر کتاب راواخلي او و یې لولي. زموږ په ټولنه بله لویه ستونزه دا ده چې د کتابونو د لوستونکو عمر ته پام نه کېږي. ماشومان د خپلې پوهې په کچه کتابونو ته اړتیا لري، که په یوه کور کې هر څومره ډېر کتابونه وي خو چې د دوی د ذوق او پوهې له کچې سره برابر کتاب په کې نه وي هغوی لوستو ته زړه نه ښه کوي او نه یې په درد لګېږي، که کوم کتاب سره هم شوق وکړي د هغه سختې او پېچلې جملې به یې زړه توری کړي، هغه څه کوي د کوم بل کتاب لوستو ته به یې هم بیا زړه و نه شي.

ماشومان لویانو ته ګوري هغه څه چې لویان کوي، غواړي هماغسې څوک له ځان څخه جوړ کړي، د دې په خاطر ډېره مهمه ده چې د ماشومانو په مخ کې کتاب را واخلئ و یې لولئ په هماغه شېبه به د ماشوم هم کتاب ته زړه وشي که هر څومره کوچنی وي، خو غواړي چې د کتاب پاڼې واړوي. له دې سره په هغو کې د لوستنې ځواک او غوښتنه پیاوړې کېږي هڅه کوي چې په فارغ وخت کې کوم کتاب را واخلي و یې لولي او یا په کتابچه کې څه ولیکي، چې د ماشومانو د راتلونکي لپاره دا موضوع ډېره ارزښتمنه ده.

په کور کې کتابتون یواځې د ماشومانو نه، بلکې د لویانو لپاره هم ارزښتمن دي، ځکه په نړۍ کې ډېر فارغه وخت افغانان لري، د انسان د طبعي غوښتنې له مخې انسان اړ دی چې په فارغ وخت کې پر یو څه ځان بوخت کړي، زموږ وخت اوس پر ټلوېزیون باندې د ډرامو او سریالونو کتلو او یا هم پر فېسبوک مصرفېږي، چې تر ډېره ګټه هم نه لري یوازې هماغه ساعت‌تېری یې ګټه ده؛ نو په دې توګه مو د خپل ژوند ډېر وخت په ډېرو بې ارزښتنو څېزونو وژنو، د کتاب په کتلو سره موږ ډېر معلومات ترلاسه کولی شو. یوه مهمه مسئله دا ده چې د یو کتاب په لوستلو موږ باید په دې تمه نه اوسو چې ټول کتاب زموږ په ذهن کې وي، خو په غیر محسوس ډول هماغه کتاب لوستلو زموږ معلومات ډېر کړي، د لغاتو زخیره یې غني کړي او له نویو تجربو او ښوونو څخه یې خبر کړي یو، هغه وخت یې موږ احساسولی شو، چې د دې کتاب سره ورته یوې موضوع سره مخامخ شو، موږ ته بیا څرګندېږي چې په دې اړه څومره معلومات موږ سره وو او له کومه مو کړي وو.

ادبي ټوټه

عزیزالله مبارز

سپین سترګی

ماشوم وم رالوی شوم؛ خو هر چا به ویل یتیم یې. یتیم یم خو بدمرغه نه یم. دنیا ته راتګ چې څرنګه شته، بېرته تګ هم همداسې، هر انسان به ترې ځي؛ خو څه وشول چې د وخت تنده او تېزه، خو زوروره سیلۍ زما په خوا راتاو... او د هغو د مهربانۍ او شفقت تر سیورې محروم شوم.

چې د هغو له مینې او محبت څخه محروم شوم؛ نو سپین سترګی شوم، ځکه چې چا مې هم اوښکې وچې نه کړې، چا مې هم پر سر د مهربانۍ لاس تېر نه کړ او هیچا هم راته سمه لار ونه ښوده.

په ځای د دې چې اوښکې مې وچې کړې، پر سر مې د مهربانۍ لاس تېر کړي او لارښوونه مې وکړې، سپېره او بدمرغه هم راته وایي؛ خو نه، زه نه سپېره یم او نه هم بدمرغه.

اوس چې سپین سترګی هم شوې سپېره او بدمرغه هم شوې ګیله له چا څخه، خو ګیله مې له... اوس راشئ قضاوت ستاسې چې اوس به هم راته بدمرغه او سپین سترګی وایئ؟.

شعر او شاعري

کیهان حماس

غزل

کوز که په سجده درته د هر مازیګر لمر نه و
ټول عمر به شپه وه په دنیا به دې سهر نه و

ستا د رحم څاڅکو ته که وړوند له تندې نه ومه
هر سر به مات شوی و زما په سر به سر نه و

دا د پلنو دښتو اوړې څه له زغمه ډکې دي
دا هستۍ که نه وای نو په دې خاوره به غر نه و

داسې مې خودي لکه جامه له ځانه ووېسته
ما کې هم آئینې غوندې د خپل توصیف هنر نه و

غږ د کوم ملنګ دی تر شاهي درباره ورسېد
څوک وایي؟ کچکول کې د یوه لښکر اثر نه و

پټ له تهمتونو د اوبو په تل کې ښه وې خو
ځمکې ته دې ښې نه وې هوا ته دې وزر نه و

درست تفاوتونه د حماس د قدم تله سوه
څه ته چې نظر کېده هغې ته مې نظر نه و

له ادبي او فرهنګي ناستو...

دولتي او تر ډېره رسمي ملاتړ خپل کړی، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او ولایتي استازولۍ یې دا چاره سمبالوي. د دې تر څنګ ځینې فرهنګي ټولنې او ادبي بهیرونه میاشتنۍ او اوونیزې ناستې لري چې د خپلې اجنډا له مخې ډېر زاړه او کم نوي مسایل مطرح کوي.

۲ـ مناسبتي ورځې

مناسبتي ورځې هم تقریبا کلنۍ ناستې وي، خو ټولو یې فرهنګي او ادبي مسایل هم نه رانغاړي، په دې ورځو کې د مورنۍ ژبې، ښځو، سولې، بیان ازادۍ، ښوونکي، استقلال، چاپېریال ساتنې او نورې ورځې شاملې دي. د دې تر څنګ د مهمو تاریخي او فرهنګي شخصیتونو تلینونه هم په کې راځي.

۳ـ تصادفي یا یو ځلي پېښې

تصادفي یا یو ځلي فرهنګي پېښې هم اوس معمول دي، لکه د ځینو مهمو کتابونو چاپ او مخکتنه، ولایتونو ته د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر او اړونده چارواکو سفر، د فرهنګي او ادبي شخصیتونو نمانځغونډې، د فرهنګي فعالانو او ادیبانو مړینه، همدې چارې ته د اړوندو ودانیو لکه پوهنتون، تاریخي ابداتو او نورو ځایونو رغونه او نومَونه.

اوس به دا درې واړه د راپور ورکونې له زاویې یو څه تحلیل کړو: لومړی ډول غونډې په دې مهمې دي چې پیل یې نادولتي او ځایي دی، ډېری اوس هم نادولتي دي، د فرهنګي راپورونو لپاره ښې او تازه سوژې په کې مطرح کېږي، په ځانګړي ډول کلنۍ مشاعرې، ځکه چې ډېر لوړ پوړي چارواکي هم په کې د ګډون هیله لري، غواړي خبرې وکړي او خبرې یې هم تر ډېره فرهنګي او ادبي اړخ ولري.

دلته یو غوره چانس دا دی چې د هغوی ادبي او فرهنګي وړتیا یا لیدلوری هم د خبریال له سترګو تشخیص کېدی شي، خو له شک پرته چې تبلیغاتي، معمول او ځان ښودې خبرې به هم لري. که خبره د فرهنګي راپور وي، نو اړینه ده چې رسنۍ داسې غونډو کې د راپور ورکونې لپاره خپل هغه خبریال وګماري چې له فرهنګي اصطلاحاتو، ادبي ژبې او اړتیاوو سره اشنا وي. دلته رسمي ویناوال مثلا وزیر، والي او کوم بل ځایي مقام په هر لحاظ د ځان ښوودنې او سیاست په اړه هم خامخا خبرې کوي، پوهېږي چې رسنۍ زیاتې او ګډونوال زیات دي، ګڼ خبریالان هم د هغو خبرو ته اهمیت ورکوي چې له ورځني سیاست او تودو مسایلو سره تړلي وي، خو که خبره د فرهنګي- ادبي راپور وي، نو دلته د غونډې اصل او موخه هم ادب او فرهنګ ګڼل کېږي، نو غوره به وي چې له وینا یې هغه زاویې را ونیسي چې په مناسبت یې غونډه جوړه شوې، خلکو یې یو کال انتظار کړی، دلته د ټولو ویناوو او مېلمنو د فکر محور د غونډې موضوع ده، نه هغه سیاسي او ټولنیز مسایل چې هره ورځ مطرح کېږي، دلته چارواکي غواړي خپلې ټولې خبرې وپلوري، خو فرهنګي راپور یې باید په زور اړ شوی مشتري نه وي. چارواکي حتی د جمعو، فاتحو او اختر لمانځه کې له خپلو موخو نه تېرېږي او له موضوع بهر سیاست کې خبرې کوي.

بله دا چې په مشاعرو او ادبي غونډو کې هم له بده مرغه چې خبریال په راپور کې د هغه شعر او شاعر پلوي کوي چې خلک یې په احساساتو راوستې وي، په چارواکو یې توندې نیوکې کړې وي، وچ کلک شعارونه وي. د خلکو زړونه ډک دي، ښایي همدا خوښ کړي، خو د ادب او فرهنګ رویه تلپاتې هنر غواړي؛ راپور او رسنۍ باید هغه څه مطرح کړي چې د فرهنګ او ادب ترمینالوژي یې ایجابوي، یو څه روزنیز او تنقیدي اړخ ولري، څو په بله دا ډول ناسته کې اصلاحات راشي، مبتدي او د زده کړې په موخه راغلي کسان وروزل شي.

د راپور لپاره د ځایي یا عامو ګډونوالو په برخه کې بیا هم له رسمي مسؤلیتونو پرته د هغو فرهنګیانو او شاعرانو نظر ډېر مهم دی چې نوې او ځایي څېرې دي، هلته د زده‌کړې او نورو ته د څه ښودنې په موخه ورغلي، نه هغه چې په هره موضوع او هره ناسته کې په ټلویزیون او رسنیو کې د غږ او تصویر د راتګ په شوق د خبریالانو کمرو او مایکونو ته په خپله ځان ور وړاندې کوي.

البته میاشتنۍ او اونیزې ناستې ډېر ځله عادي او خبر جوړوونکې نه وي، جوړونکي یې هم خپل راپور یوازې د خپل فعالیت او شتون ښوودنې او ارشیف کې د خوندي کېدو یا تداوم لپاره لیکي، فرهنګي خبریال هم باید دا درک کړي، البته که خپله کلنۍ او د عمومي راپور وړاندې کونې ناسته وي، بیا هم یو ښه ارزونکي فرهنګي راپور ورباندې لیکل کېدی شي.

دویم ډول چې موږ مناسبتي فرهنګي ورځې یادې کړې، دلته هم چارواکي او د خبرو مینه‌وال دي، له هرې زاویې او په هر قیمت خبرې کوي. مثلا د کتاب نړیواله ورځ ده، یو فرهنګي مناسبت دی، فرهنګي راپور باید پر یوه مثلث تکیه وکړي چې لیکوال، لوستونکی او کتاب خپرندوی (انتشارات) یې درې ضلعې جوړوي، درې واړه به ناسته کې موجود هم وي. په ضمني برخو کې دا هم مهم دي چې برېښنایي مطالعې او ټکنالوژۍ پر کتاب څه اغېزې کړي؟ د پي ډي ایف کتابونو خپرېدو پر خپرندویانو څه اغېزې کړي؟ کوم کتابونه ډېر خوښوونکي لري؟ کتاب د لیکوال په اقتصادي ژوند کې څومره بدلونونه راوستي دي؟ که دا پوښتنې د ویناوالو په خبرو کې ځواب نه شي، نو خبریال باید له ګډونوالو وپوښتي، حتی که داسې ګډونوال ونه مومي، کېدای شي دفترونو او کورونو ته پسې ورشي.

په همدې ډول هر کال د مزارشریف په روضه کې د جنډې اوچتولو مراسم تر سره کېږي، ما چې کوم راپورونه لیدلي ډېری د ویناوالو په سیاسي خبرو پسې روان وي، بیا وایي چې پلاني دا خبرې په دې مناسبت کې کړي، لږ په امنیت او له تېر کال سره په یوه پرتلنه هم ولاړ وي، حال دا چې د دې مناسب راپور باید د فرهنګي یووالي او دولتي فرهنګي پالیسۍ په تشو، لاسته راوړنو او ورته نورو فرصتونو را وڅرخېږي، دې کلني جشن پر بلخ او د شمال په فرهنګي حوزه څه اغېزې کړي، په مادي او معنوي توګه یې څه ورکړي؟ څومره د فرهنګیانو او بېلابېلو فرهنګي ټولنو او ژبو د وصل په فرصت بدل شوی؟ که یواځې د سیاستوالو لپاره د وینا د یوه ستېج او بهانې مناسبت وي، نو بیایې له نورو سیاسي ناستو سره توپیر څه دی؟

درېیم ډول چې تصادفي او یو ځلي غونډې دي، ډېرې د اهمیت وړ بلل کېږي، په دې چې دوی اکثره خبریالانو او رسنیو ته له وړاندې خبرپاڼه هم استوي، د فرهنګي چارو خبریال باید له پوره مخکنۍ مطالعې او پېژندنې سره ورشي، فرهنګیان او ادیبان وپېژني. مثلا د یوه کتاب مخکتنه ده، طبیعي ده چې خبریال به له وړاندې نه وي کتلی، خو کېدای شي د ناستې په ترڅ کې تر ټولو وړاندې کتاب تر لاسه کړي، که یې بېځي له ناستې وړاندې لاسته ورشي، لا به ښه وي، دلته اوس یو هغه خبرې دي چې ویناوال یې کوي، طبیعي ده چې موږ محافظه کار یو، لیکوال او شاعران نه خپه کوو، ویناوې مو ټولې په ستاینې ولاړې وي، اوس خبریال د کتاب د محتوا تابع شي که د ویناوو؟

سمه ده چې دا د کره کتنې بحث دی، خو خبریال خپل فرهنګي او ادبي خلاقیت وکاروي، خپل راپور په خبر جوړوونکي ویناوال پیل نه کړي، له جوړونکو د شاعر مننه او راتلونکي هیلې هم مهمې نه دي، طبیعي چاره ده. مثلا د مخکتنې کتاب پښتو شعري ټولګه ده، راپور د پښتو شعر د اوسني وضعیت، د پښتو شاعرۍ د کتابونو چاپ له اوسني وضعیت او محتوا را پیل شي او بیا دا موضوع له کتاب سره په تړاو مستنده شي، که شاعر یې ووایي چې ژبې ته د خدمت په موخه شاعري کوم، دا هم د فرهنګي راپور په اډانه کې مناسب ځواب نه دی، باید پوښتنه ورته بدله شي، مثلا ولې یې په نثر نه کوي؟ همدارنګه هغه کسان هم پیدا شي چې ویناوال نه دي، خو د کتاب تشې او خوګانې ور معلومې دي، د اثر خالق یې لومړی ځل لیدلی، یا په هغو ښېګڼو پوهېږي چې د ویناوالو نه دی ورپام شوی.

په لنډه توګه بیا هم د یوې خبرې تکرار اړین بولم چې په فرهنګي راپور ورکونه کې د فرهنګي وضعیت درک، له فرهنګیانو او ادیبانو سره اړیکه او د هغوی مسلکي شناخت ډېر مهم دی، حتی فرهنګي جغرافیه، فرهنګي حساسیتونه او تشې هم باید د خبریال له سترګو پټې نه وي. که داسې وشي نو د فرهنګي راپور متن تلپاتې کېږي، د ادبي او فرهنګي څېړنو لپاره ماخذ او لارښود هم ګرځي، په داسې حال کې چې وچ کلک خبري او د چارواکو په ورځنیو سیاسي خبرو ولاړ ((فرهنګي راپورونه)) له خپرېدو څو ساعته وروسته هم مري.

د سمې لیکنې ...

رسېدلای شو. په داسې کړنې سره د ګډو- وډو لیکنو او څرګندونو مخه نیول کېدای شي. هغه مهم او اساسي اصول چې د یوې سمې لیکنې د برابرونې لپاره اساس کېدای شي ایتمولوژیکي او فونولوژیکي لارې یا قاعدې دي. پر دې سربېره نور مرستندویه (مورفولوژیکي، څپه‌ییز، نحوي) اصول هم شته چې په سمه لیکنه کې رول لوبوي. [۳]

1_ Knaurs jugend Lexikon, Droemers Verlaganstalt Muenchen, 1953, S.507.

2_ Einfuehrung in die Sprachwissenschaft, Akademie-Verlag, Berlin, 1974, S. 164.

د متلونو معناییز او...

لفظ دی، چې د اصلي معنا پر ځای بله (دویمه) معنا ترې واخیستل شي. خو د دې خبرې یادونه هم اړینه ده چې ووایو: په کنایي جمله کې اصلي معنا هم اخیستل کېدای شي، ځکه چې داسې قرینه نه وي چې د اصلي معنا ترلاسه کولو خنډ وګرځي او له مجاز سره یې توپیر هم همدا قیدونه دي چې د اصلي معنا اخیستلو جواز او د داسې قرینې نشتوالی دی چې د اصلي معنا اخیستلو مانع شي؛ د بېلګې په توګه (ما هم څه د کدوانو پاڼې نه دي لوستې). مطلب دا چې زه هم پوهېږم؛ خو اصلي معنا هم ترې اخیستل کېدا شي، چې کتابونه مې لوستي دي او د کدوانو پاڼې مې نه دي لوستې. (٦)

په متلونو کې د ایجاز لومړی ډول (قصر ایجاز) هم موجود وي، چې تعریف یې په لاندې ډول دی

قصر ایجاز: قصر ایجاز ته د بلاغت ایجاز هم ویل کېږي او دا هغه لنډ الفاظ دي چې په لنډ تعبیر سره لویه معنا څرګندوي. (۷)

څومره چې ماته د متلونو په څېړلو کې څرګنده شوه، متلونه د تمثیلي استعارې په چوکاټ کې ویل شوي دي، چې دلته به د تمثیلي استعارې پېژندنه هم را نقل کړو:

تمثیلي استعاره: تمثیلي استعاره هغه ترکیب یا خبرې دي چې د ورته والي له امله په اصلي معنا کې نه وي استعمال شوې او داسې نښه وي، چې اصلي معنا ترې نه شي اخیستل کېدای؛ لکه: (ترکاڼي د بیزو کار نه دی). (۸)

څنګه چې لنډې د پښتنو ټولنیز جمالیاتي شعور تمثیلوي؛ نو متلونه د هغوی عقلاني او فلسفي خوا راښیي. (۹)

په لنډه توګه ویلای شو چې: په متل کې د بدیع او بیان (مجاز، کنایه، قصر ایجاز، تمثیلي استعاره او تشبیهي ښکلاوې) رغنده ځای او سره تړلې اړیکې لري چې هر یو به یې په لاندې توګه په ځینو متلونو کې توضیح او تشریح شي.

متلونه او تحلیلي څېړنه یې

نننۍ هګۍ تر سبانۍ چرګي ښه ده

د پورتني متل اصلي معنا دا ده، (هغه هګۍ چې په واک یې لرې د سبا ورځې تر چرګې غوره ده، چې له همدې هګۍ پیدا کېږي) خو د متل دویمه مجازي او کنایي معنا داده، چې یو سړی باید ددې په تمه ځان وړی پرې نږدې چې هګۍ به په چرګه بدله شي او بیا به نورې هګۍ کوي. د دې متل فلسفي اړخ هم همدا جوتوي چې لا څرګنده نه ده، چې آیا هګۍ به تر هغه وخته پاتې شي چې چرګه ترې وزېږي او کنه؟ موخه داده چې سړی باید لاس تر زنې کښېنني او لاس په کار شي. دا چې همدا متل د یو خاص مناسبت او اړیکو له امله له خپلې اصلي معنا څخه پرته په بله معنا کارول شوی دی همدا یې مجازي اړخ دی او دا چې په دې متل کې سربېره په خپله اصلي معنا دویمه معنا هم ترلاسه کېږي همدې ته یې کنایي اړخ ویل کېږي. د متل لنډوالی موږ ته د متل بلاغت او قصر ایجاز راښیي او هغه څه چې نن یې لرو او د سبا تضمین یې نامعلوم دی همدا د متل تمثیلي استعاره ده. دا چې په متل کې د (هګۍ او چرګې) کلمې راوړل شوې دي همدا په اصل کې شته تشبیهي امکانات دي چې سړی یې په لاس لري او باید کار ترې واخیستل شي.

که رمه اتفاق وکړي، زمری به په لوږه ویده سي

پورتنی متل چې (رمه او زمری) په تشبیهي توګه پکې ښودل شوي دي؛ اصلي مفهوم او معنا ترې د وګړو یووالی دی. که چېرې انسانان متحد اوسي د ظالم او جابر زور پرې نه رسېږي. په دې متل کې هم مجاز، کنایه، قصر ایجاز، تمثیلي استعاره او تشبیهات موجود دي چې لوستونکی او اورېدونکی یې پر اصلي معنا سربېره دویمه معنا ترلاسه کوي، چې د متل اصلي مفهوم هم په دویمه معنا کې نغښتی دی.

خر د سرو زرو په کته نه آس کېږي

دا متل هم چې (خر، آس، سره زر او کته) پکې په کنایي، مجازي او تشبیهي توګه راوړل شوي دي، موخه یې واضح او څرګنده ده؛ تر څو چې د انسان باطني اړخ و نه رغېږي په ظاهري جوړښت ښه سړی کېدای نه شي او څوک چې د اخلاقو له مخې ښایسته نه وي د نېک خصلتي او هوښیارتیا مدارجو ته نه شي رسېدلی؛ نو دا متل موږ ته په لنډه خو بامفهومه جمله کې په اصلي معنا سربېره په دویمه مجازي او کنایي معنا کې یو عالم مفاهیم وړاندې کوي.

د زړې وني مېوه خوږه وي

ډېری وخت موږ په خپلو کورونو کې د دې شاهد یو چې د مشرانو خبرې واورو او عمل پرې وکړو؛ د دې متل دویمه معنا هم همدا راښیي چې پخوانیو ته ارزښت ورکړو ځکه چې پخواني که هر څه وي له حکمت او تجربې برخمن وي. له زړې وني څخه یې دویمه معنا پخواني شیان او انسانان دي، چې تجربې پرې تېرې شوې دي. له خوږې مېوې څخه موخه او دویمه معنا همدا ده، چې د پخوانیو ګټه او لارښوونه پښېماني نه لري؛ نو په همدې بنسټ په دې متل کې مجاز، کنایه، قصر ایجاز او تمثیلي استعاره ټول ځای لري.

د ځنځیر قوت په کمزورې کړۍ کې وي

د ځنځیر قوت، دلته د یوې ټولنې د ځواک او پیاوړتیا په معنا ده، چې په متحده توګه یو موټی د دښمن په مقابل کې درېدلي او یا درېږي، چې همدا د متل دویمه معنا ده او له کمزورې کړۍ څخه موخه داده، چې که هر مفرد وګړی په اصل کې په یوازې توګه کمزوری دی او د ډېرو زور نه لري؛ خو کله چې همدا کمزورې منفردې کړۍ سره یو ځای کېږي ځنځیري شکل پیدا کوي چې د ځواکمنتیا زور یې هیڅوک نه لري.

پر غلي خره دوه تنه سپریږي

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې داسې پېښې خورا ډېرې دي، چې د پورتني متل مفهوم افاده کوي؛ هغه په دې معنا که چېرې ددې متل لومړۍ او دویمې معنا ته پام وکړو په دواړو کې خوار، غریب او عاجز انسان له پښو لاندې دی، همداراز حیوان هم که څه ناڅه کمزوری وي؛ لا تر اخ او ډب لاندې وي. په دې متل کې غلی خر کنایه ده، چې مجاز، تشبیه، قصر ایجاز او تمثیلي استعاره هم له ځان سره لري.

که لېوه قاضي وي، نو د رمې دي خدای مل سي

په دې متل کې (لېوه) له یوه ظالم مشر سره په کنایي توګه تشبیه ده، چې (رمه) په دویمه مجازي معنا کې وګړو ته اشاره ده.

بندې خولې ته مچ نه ننوځي

پورتنی متل د هغه چا پر وړاندې استعمالېږي چې په مجلس کې بې دلیله او بې مورده مداخله کوي او هغه چا ته ډېر متوجه دی، چې ناحقه لانجه مار وي او جنګ په پیسو اخلي. د دې متل دویمه مجازي معنا همدا ده، چې که څوک بې ځایه په چا کار و نه لري؛ نو له ده سره به څوک بد چلند نه کوي.

د ګران بچي نومونه ډېر وي

د دې متل استعمال هغه چا ته منسوب دی چې نېک نام وي او په ډېرو ښو اوصافو، نومونو او لقبونو یادېږي. دا چې موږ د ګران بچي په توګه په ډېرو ښو نومونو سره یاد شو؛ نو اړینه ده، چې سمې لارې وټاکو او له بدو لارو ځان وساتو.

په پای کې به دومره ووایم چې زموږ د ټولنې پاخه متلونه ډېر ژور مفاهیم لري او په هر یوه کې د ټولنیز ژوند ژور فکري او فلسفي ځواک نغښتی دی، چې په دې سربېره تاریخي ریښې هم لري، موږ کولای شو چې خپل متلونه د بدیع او بیان د ښکلاوو په رڼا کې وڅېړو او نورې خواوې یې هم را وسپړو.

مأخذونه

۱- دوست شینواری، دوست محمد. د پښتو د ولسي ادب لارې، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۵ل کال، ۵۲مخ.

۲ - ازمون، لعل پاچا. فولکلوري ادبیات، پکتوس خپرندویه ټولنه: ۱۳۹۵ ل کال، ۱۳۱ او ۲٦۲مخونه.

۳ - وفا، محمد داود. د فولکلور پېژندنې لارښود، مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۳ ل کال، ۲۴۲ مخ.

۴ - ګوربز، میراحمد. په پښتني فولکلور کې ټولنیز ارزښتونه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۰ ل کال، ۱۱۰ مخ.

۵ـ پښتو ولسي ادبی لارې، ۵۳ او ۵۷ مخونه.

٦- مسلم دوست، عبدالرحیم. خوږه ژبه، مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۳ل، ۱۴۱ او ۱٦۹ مخونه.

۷ـ خوږه ژبه، ۱۰۷ مخ.

۸ـ پورتنی اثر، ۱٦۷ مخ.

۹ - خاوري، غوټی. د پښتو شفاهي ادبیات – شکل او مضمون، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل دولتي مطبعه، ۱۳٦٦ ل کال، ۸ مخ،

د مقالې لیکلو لارې...

د هغوی د لیکلو طرز او لاره د ځان لپاره هم انتخاب کړئ او پر هغې لاره باندې ګام پر ګام خپل پل کېږدئ.

له کمزورۍ څخه د پیاوړتیا په لور: دا مهمه نه ده چې ستاسې لومړنۍ لیکل شوې مقاله دې په تول پوره وي، هیڅ عیب او نیمګړتیاوې دې ونه لري. ستاسې لومړنۍ لیکل شوې مقاله کېدای شي یو له کمزورو مقالو څخه وي.

کولای شو چې د مقالې لیکلو لپاره یوه ساده موضوع وټاکو او په هغې یوه مقاله ولیکو، د بېلګې په ډول (د موسیقي د وسایلو د پېرلو په مرکزونو کې د موسیقۍ د اغېزو څېړل) د دې کار لپاره لومړی یوه پوښتنپاڼه جوړه و او د پېرولو په مرکزونو کې یې خلکو ته ورکوو، تر څو ورکړل شوې پوښتنپاڼه ډکه کړي او په پای کې د همدې پوښتنپاڼې د موادو د تحلیل او شننې په ترڅ کې کولی شو چې یوه مقاله ولیکلو. د علومو په هره برخه کې چې زده کړه کوئ، کولی شئ چې د مقالې لیکلو لپاره یوه ساده موضوع انتخاب کړئ او له لیکلو وروسته کېدای شي هغه یوې غونډې یا د یوې ډلې کسانو په مخ کې وړاندې کړئ او د هغو نظرونه واخلئ. په دې کار سره کولی شئ چې د پیاوړتیا په لور ګامونه اوچت کړئ؛ یعنې له کمزوري لیکنې څخه د یوې پیاوړې لیکنې او مقالې په لور ګامونه واخیستل شي.

د نورو له تجربو څخه ګټه واخلئ: کېدای شي چې د یوې مقالې د پلټلو په وخت کې مو پام شوی وي، ډېری مقالې چې په مجلو کې چاپېږي، ساده او تکراري موضوعات دي. تاسو هم کولای شئ چې له دغسې ساده موضوعاتو څخه یوه موضوع وټاکئ او پر هغې موضوع باندې دویم ځل کار وکړئ. د دې کار د تر سره کولو لپاره کولی شئ چې د [پښتو] بېلابېلو هغو ویبپاڼو ته مراجعه وکړئ چې په وړیا ډول دخپلو لوستونکو لپاره مقالې وړاندې کوي. په دې سره کولای شئ چې د خپلې خوښې وړ مقاله پیدا کړئ. د بېلګې په ډول د (الزایمر) د کلمې په لیکلو سره تاسو له بېلابېلو مقالو سره مخ کېږئ، کولای شئ د هغوی له منځ څخه یوه ساده موضوع د مقالې لیکلو لپاره وټاکئ او کار وربانديې وکړئ یا هم د سولې کلمه کلیک کړئ تر سلو زیاتې مقالې او سرلیکونه به مو مخې ته را شي، په دې کې په یوه عنوان باندې له سره کار وکړئ، د نورو لیکوالو تجربو ته په کتلو سره یوه نوې مقاله ولیکئ.

ګروپي یا ګډ کار تر سره کړئ: که مخکې له مخکې د پوهنتون یو استاد او یا هم یو محصل ته چې زده کړې یې بشپړې کړې وي ورشئ او له هغه څخه د یوې ګډې (مشترکې) مقالې لیکل وغواړئ، په پوره باور چې هغه به یې ومني. له یو متخصص کس او یا هم د پوهنتون له یو استاد سره چې د مقالو لیکلو په برخه کې د ډېرې تجربې خاوند وي، د ګډ کار کولو کاري فرصت کولای شي چې تاسې خپلې ټاکل شوې موخې ته ډېر ژر ورسوي او په راتلونکي کې د بل چا له همکارۍ پرته یوه په زړه پورې مقاله ولیکئ.

ادبي کره کتنه څه شي...

کې هم معلومات ولري، ځکه په نظري کره کتنه کې معمولاً پردې بحث کېږي چې (شعر په عمومي ډول څه ته وایي؟)، خو په عملي کره کتنه کې بیا پر دې خبرې کېږي چې (فلانی شعر ترکومه بریده ښه دی؟). اوس که غواړو پردې وپوهېږو چې (فلانی شعر ترکومې کچې ښه دی؟)؛ نو باید بېلا بېل مسایل په پام کې ونیسو؛ لکه آیا متن سم دی او که ناقص؟ باید چې هغه دژبپوهنې او تاریخ له لارې وڅېړل شي؛ له دې کبله یواځې ادبیات د آثارو لرغونوالی او سموالی نه شي معلومولی. د دې دلیل له مخې ویلای شو چې کره کتونکی باید له نورو انساني علومو؛ لکه اروا پوهنې، ټولنپوهنې او تاریخ سره بلدتیا ولري. ځینې ادبپوهان عملي کره کتنه په دوو ډولونو وېشي.

۱ـ احساسي کره کتنه.

۲- حکمي یا معیاري کره کتنه.

۱ـ احساسي کره کتنه (Impressionistic) د دې کره کتنې له لارې کره کتونکی هڅه کوي چې دیوه ادبي اثر اغېزناکې برخې بیان کړي، یعنې په یوه ادبي اثر کې هغه ځای پرځای شوي خیالات، وړاندیزونه، احساسات او په عمومي ډول اغېزې وسپړي چې ادبي اثر ترې جوړشوی دی. هزلیټ (Hazlitt) په خپله مقاله (د عقل او استعداد پېژندنې برخه) کې لیکلي: ((تاسې د یوې وړې موضوع په اړه نه، بلکې د یوې احساسي موضوع په اړه تصمیم نیسي په دې معنا چې د یوه ځانګړي شخص په ذهن کې د بېلابېلو او مختلفو لاملونو له کبله یوه تأثري موضوع منځته راځي؛ نو موږ نه شو کولی دا تاثرات پر نورو آثاروباندې عملي کړو.)) والتر پیټر (Peter) په (د رنسانس تاریخ پر مطالعې مقدمه) کې وایي چې په ادبي کره کتنه کې لومړی ګام یو شي ته په واقعي ډول کتل دي، چې له دې نه خپل تأثر او احساس په رښتینې ډول پوهېدلی شو، نو په دې توګه هغه په واقعي ډول توپیر او پېژندلی شو. اناتول فرانس د ادبي کره‌کتنې دغه طریقه داسې را پېژني: ((دا د شاهکارونو په غبرګون کې د یوې حساسې اروا پېښې [سرګذشت] دي)) چې دغه تعریف یې په ادبي کره‌کتونکو کې لږ ډېر مشهور شوی هم دی.

په دې اړه ځینو نورو پوهانو هم نظریات وړاندې کړي دي، وایي: دا ډول کره‌کتنه د ادبي اثر په احساس باندې راڅرخي او کېدای شي چې دا احساسات د ځینو لپاره مهم او د ځینو نورو لپاره نه وي، نو له دې امله دې ته موږ د شخصي کره کتنې نوم هم ورکولی شو. په دې اړه ډیچز داسې څرګندوي: د دې مکتب پیروان له هر نظام او د هر نظام له تګلارې څخه د شخصي مفکورې پرښنسټ کره کتنه کوي چې له دې لارې یې ادبیاتو ته هم زیان رسېږي.

۲- حکمي یا معیاري کره کتنه: په دې کره کتنه کې د یوه ادبي اثر او لوستونکي ترمنځ د اړیکو ټینګولو سربېره هڅه کېږي، څو د ادبي اثر د موضوع او جوړښت د تجزیې او تحلیل له مخې هم څرګند شي، یعنې د تأثر(اغېز) لامل یې هم وښودل شي. داحساسي او حکمي کره‌کتنو ترمنځ په عمومي ډول داسې توپیر کېدای شي چې د حکمي کره کتونکي د ټولو عمومي اصولو پر بنسټ حکم کوي او احساسي کره‌کتونکي د یوه ادبي اثر د اغېز او اغېزمنېدو پر بنسټ کره کتنه کوي؛ خو په هرصورت د دې دواړه کره کتنو محوري ټکی پریوه اثر د تأثر (اغېز) برخه جوړوي. د جرجاني او ابوهلال عسکري آثار چې د تاثیر، ښکلا او هم د تندو شعرونو پر بنسټ وړاندې شوي دي، حکمي یا معیاري کره کتنې پورې اړه لري، ځکه که یاد آثار سم وي او که ناسم؛ خو تاثیر او تأثر په کې ښودل شوی دی. په لوېدیځ کې د تأثري یا احساسي کره کتنې غوره بېلګې د لونګینوس نظرونه (مثلاً د فاخر د سبک یادونو رساله کې د ادیسې له ځانګړتیاوو او ځانګړنو څخه بحث کوي) دي او نورې مشهورې بېلګې د هزلیت او پیتر (مثلا د مونالیزای لیوناردود اوینچي ستاینه) ده. په معاصره زمانه کې د ای. ام فورسټراو ویرجینا ولف هم په دې برخه کې آثار لیکلي دي. زما په اند د حکمي یا معیاري او مستندې کره کتنې ترمنځ توپیر شته.

مستنده کره کتنه د علمي قوانینو، اصولو او نظریو پر مستندوالي رامنځته شوې ده، دلته د بېلګې په توګه (سخن سخنوران) یا (شمس قیس در المعجم) باندې د ځینو مشهورو ادیبانو؛ لکه فروزانفر کره کتنه یادولی شو او د دې ترڅنګ دا کره‌کتنه پر یوه اثر له تاثیر (اغېز) څخه بحث نه کوي، خو تأثري کره‌کتنه کې لومړی د یوه کره کتونکي پر تأثر منځته راځي او بیا د کره کتونکي په ذهن کې د موجودو قضاوتي معیارونو سپړنه او توضیح ده چې ښایي د نورو ادیبانو په خوښه نه وي؛ لکه د فردوسي، سعدي او حافظ په اړه د نامتو شاعر احمد شاملو نظرونه دي چې دی وایي مستند دي؛ خو د نورو په اند هیڅ بنسټ نه لري.

مأخذ: شمیسا، سیروس. نقد ادبي، نشرمترا: تهران، ۱۳۸۸ل کال. ۳۷- ۴۲مخونو ژباړه.

زېرى

علمي څېړنيزه او ادبي پښتلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۳۹۹ ل.کال لړم(عقرب) مياشت | ۱۵-۱٦مه ګڼه | پرله پسې ۳۵۹- ۳٦۰مه ګڼه

د کتونکې ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدير: څېړندوی احسان الحق
مهتمم: څېړنيار ياسرپاچا
د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ

د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸٦۰۳۳
برېښنالیک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار کابل—افغانستان

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارګان
• په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پر غاړه دی.

د ادبي کره‌کتنې ډولونه

ليکوال: ډاکټر سيروس شميسا
ژباړه: څېړندويه شکيلا عبدالرحميزی ميا‌خېله

ادبي کره کتنه دادبي مطالعاتو يوه برخه ده چې د ادبي اصطلاحاتو د پېژندنې او د ادبي اثارو ډلبندی، توضيح او سپړنې دنده پرغاړه لري. ادبي کره کتنه په عمومي توګه په دوه ډوله ده:

۱ـ نظري کره کتنه

۲ـ عملي يا تجربوي کره کتنه

۱- نظري کره‌کتنه (Theoretical criticism) د اصطلاحاتو، تعريفونو، مقولو او ډلبنديو منظمه ټولګه ده چې د ادبي آثارو سپړنې، کتنې او مطالعې په برخه کې ور څخه ګټه اخيستل کېږي. همدارنګه د ادبي آثارو او ليکوالو په اړه د کره‌کتنې لپاره قواعد او اصول هم وړاندې کوي چې د هغو په مرسته موږ پر ادبي آثارو او ليکوالو قضاوت کولی شو.

نظري کره کتنه په حقيقت کې يواځې د ادبي کره‌کتنې او ادبي فنونو د هغو قواعدو بيان او تشريح ده چې ښايي له هغو څخه په يوه اثر کې په عملي توګه ګټه پورته نه شي؛ د بېلګې په توګه وايو چې په کره‌کتنه کې بايد يو متن د ليکوال د شخصي رايې او ژوندانه تر اغېزې لاندې رانشي، داسې وانګيرل شي چې موږ يواځې په دې برخه کې نظريه وړاندې کړې خو پر يوه اثر مو په عملي توګه دا نظريه نه ده پلي کړې.

په لرغونې دوره کې د نظري کره‌کتنې په برخه کې تر ټولو غوره او معتبر اثر د ارسطو بوطيقا (Poetics) دی، خو په اوسني وخت کې چې په دې اړه په انګليسي ژبه کوم غوره او باوري آثارليکل شوي ځينې دا دي:

الف) د ادبي کره کتنې اصول (Principles of literary criticism) د آی ريچاردز کتاب چې پر ۱۹۲۴ز کال کې ليکل شوی.

ب) د ادبي کره کتنې تشريح (Anatomy of criticism) د نروتروب فرای اثر دی چې پر ۱۹۵۷ ميلادي کال يې ليکلی دی.

۲ـ عملي يا تجربوي کره کتنه (Practical Criticism) د يوه ځانګړي اثر عملي څېړنه ده چې په عملي توګه د يوه اثر د سپړنې، توضيح او قضاوت لپاره د ادبي قواعدو او فنونو څخه کار اخلي د نظري کره‌کتنې د اصولو او قواعدو څخه په ګټې اخيستنې سره په عملي توګه پر يوه اثر باندې څېړنه، قضاوت او کره‌کتنه کول د عملي کره کتنې کار دی. په دې برخه کې د انګلستان له غوره آثارو څخه د ډرايډن مقالې، د ادبي بيوګرافي کتاب په ځينو هغو څپرکو کې چې کلريج د شعر او د شکسپير په اړه د ده بيانونه، دماټيو آرنولډ اثر ادبي کره کتنه او د ټي ايس. اليوت انتخابي مقالې د يادولو وړ دي. د نظري او عملي کره کتنې په اړه ډيچز داسې نظر لري: د نظري او عملي کره کتنې تر منځ توپير تر ډېره بريده مصنوعي دی، يعنې دغه پوښتنه چې ادبيات څه ته وايي؟ نظري کره کتنه ده او د يوه ادبي اثر د ارزښتونو، ښکلا او نورو برخو په اړه څېړنې ته عملي کره کتنه ويلی شو. ډيچز د ادبياتو تاريخ ته په کتنې او پاملرنې سره وايي: نظري کره کتنه پر دې بحث کوي چې ادبيات څه ته وايي؟ او څه ارزښت او ګټې لري، دا په هغو دورو پورې اړه لري چې پر شعر باندې برېد شوی و؛ خو په هغو ټولنو کې چې ادبيات د يوه ارزښت په توګه مني د کره‌کتنې په اړه خبرې تر ډېره عملي دي، چې د ليکوالۍ، هنر او عالي آثارو د پنځولو لارې چارې پلټي. د ډيچز دغه نظريه پر موږ هم د عملي کېدو وړ ده ځکه چې په لومړيو اسلامي پېړيو کې په ځانګړي توګه له درېيمې تر اوومې پېړۍ پورې اديب او ادبيات غوره او ځانګړی مقام درلود؛ نو پر دغو وختونو کې ډېری ترسره شوي بحثونه د عملي کره کتنې بڼه لري او دغه راز جرجاني، ابوهلال عسکري او ابن قتيبه په دې ډګر کې ډېر ځليدلي دي. ډيچز د عملي او نظري کره کتنې دبحث تر څنګ وايي چې کره‌کتونکی بايد د ادب تر څنګ په نورو علومو

د مخ

د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک

څېړنوال محمد آصف احمدزی

((د نورستان په فولکلوريکو او شفاهي ادبياتو کې د ښځې دريځ))

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز علمي غړي څېړنوالې عاطفې نورستانۍ تر پورته سرليک لاندې علمي- څېړنيزه پروژه د لړم د مياشتې پر ۳مه د شنبې پر ورځ دفاع کړه.

د يادولو ده چې د دې پروژې لارښود استاد څېړنپوه نصرالله ناصر او تقريظ ورکوونکي يې څېړنپوه دکتور سيد محی الدين هاشمي، څېړنپوه علي محمد منګل، پوهاند پښتون آقا شېرزاد او څېړنپوه محمد نبي صلاحي وو.

د سارک فرهنګي مرکز کلنۍ ناسته وشوه

د افغانستان په مشرۍ د سارک فرهنګي مرکز کلنۍ ناسته د لړم پر ۸مه جوړه شوه. د سارک هېوادونو د فرهنګي مرکز کلنۍ ناسته د عبدالمقيم افغان په مشرۍ په انلاين بڼه تر سره شوه.

دا ناسته چې د سارک د فرهنګي مرکز د چارو د سمون او مديريت په موخه هر کال د افغانستان، هندوستان، پاکستان، بنګلدېش، نېپال، مالديف، بوتان او سرېلانکا د استازو په ګډون ترسره کېږي، سږ کال يې مشري د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د پلان او پاليسي رئيس عبدالمقيم افغان کوله.

په پام کې وه چې سږ کال د سارک فرهنګي مرکز له لوري په افغانستان کې د عدم تشدد ورځ ونمانځل شي، خو دا چې د سارک ټول پروګرامونه د کرونا له امله وځنډېدل، نو د عدم تشدد ورځ به هم په راتلونکي کال کې د سارک هېوادونو په کچه په افغانستان کې نمانځل کېږي.

دا سازمان د سهيلي اسيا هېوادونو تر منځ د هر اړخيزو همکاريو د زياتوالي او همغږۍ په منظور په ۱۹۸۵م کال کې جوړ شوی، چې د نورو برخو تر څنګ په فرهنګي برخه کې هم فعاليت کوي او د فرهنګي چارو د تنظيم په خاطر يې په سرېلانکا کې فرهنګي مرکز جوړ کړی دی.

سرچينه: https://pajhwok.com/ps/2020/10/29/the-annual-meeting-of-the-saarc-cultural-center-was-held/

د "غمي ـ غمي سيندونه" اثر مخکتنه وشوه

په کابل کې د شاعر سيد جيلاني جلان د "غمي ـ غمي سيندونه" شعري ټولګې مخکتنه د لړم پر ۱۵مه وشوه.

په دې غونډه کې د کوچيانو چارو د سمون لوی رئيس او فرهنګپال شخصيت استاد حبيب الرحمن په ګډون پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون، استاد نجيب منلي او د ځينو نورو ادارو مشرانو برخه اخيستې وه.

سرچينه: "د کوچيانو لوی رياست ـ General Directorate of Kuchies" فېسبوک پاڼه.

خيبر پښتونخوا کې د سولې او امن په نوم مشاعره وشوه

په خيبر پښتونخوا کې د افغانستان په لويه قونسلګرۍ کې د سولې او امن په نوم مشاعره د لړم پر ۱٦مه وشوه.

د لومړي ځل لپاره په قونسلګرۍ کې د فرهنګي بنسټ له خوا د قونسلګرۍ په چمن کې د سولې او امن په نوم مشاعره جوړه شوه چې د خيبر پښتونخوا مشهورو شاعرانو، افغان تجارانو او مشرانو، محصلينو، د لېسو مديرانو، ښوونکو، معلولينو، په خيبر پښتونخوا کې ټولو آتيشو او ډيپلوماتانو په کې ګډون کړی وو.

سرچينه: https://www.facebook.com/asadullah.farooqi

د "ادب کور" ناسته وشوه

د افغانستان په ختيځ کې د ادب کور په نوم د علمي، فرهنګي او تاريخي هڅو پيل د پوهنتون استادانو او پوهانو له خوا د لړم پر ۱۹مه وشو.

د ننګرهار او کونړ پوهنتونونو استادانو په ګډه دا بهير پيل کړی چې د ادبياتو په بېلابېلو موضوعاتو به ليکچرونه ورکوي، د مقالو سيالي به په لاره اچوي او څېړونکو سره به د څېړنو په برخه کې مرسته کوي.

سرچينه: https://www.facebook.com/saidasghar.hashimi/posts/2818319288452690

څېړنوال بسم الله حقمل وفات شو

د افغانستان د علومو اکاډمي متقاعد علمي غړی څېړنوال بسم الله حقمل د ۱۳۹۹هـ. ش کال د لړم پر ۲۱مه نېټه (د ۲۰۲۰م کال د نومبر ۱۱مه) په حق ورسېد.

نوموړي چې ډېر کلونه يې د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت کې د علمي غړي په توګه کار کړی او وروسته تقاعد شوی دی، په همدې موده کې يې د پښتو ادبياتو اړوند څو علمي- څېړنيز کتابونه او مقالې ليکلې دي.

د ځينو څېړنيزو آثارو نومونه يې دا دي:

په پښتو ژبه کې داستاني ادبيات، په پښتو ادبياتو کې کره کتنه، د تنيو کلتور او فولکلور، خوست څنګه جوړ کړو؟.

تخليقي آثار يې دا دي:

لنډې کيسې، څارندوی غږ، حماسه هستوونکي، که دا اور که دا لمبې وي، حماسه افرينان (په دري ژبه)، د ننګ شملې.

"پر اسلامي نړۍ د بغداد د واکمنۍ وختونه" اثر مخکتنه وشوه

د افغانستان قلم ټولنه کې "پر اسلامي نړۍ د بغداد د واکمنۍ وختونه" اثر مخکتنه د لړم پر ۲۲مه وشوه.

دا کتاب نظام الدين کټوازي له انګريزی په پښتو ژباړلی دی.

په غونډه کې محمد نبي صلاحي، سرمحقق شريف ځدران، څېړنوال فريدالله نوري، محمد شاه کټوازي او استاد عيدمحمد بې غرض د ياد شوي کتاب پر منځپانګې او ارزښت خبرې وکړې.

لغمان پوهنتون کې د فولکلور په اړه ليکچر ورکړل شو

په علمي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون چې د يو پلاوي په مشرۍ يې د هېواد ختيځو سيمو ته سفر کړی، د لغمان پوهنتون محصلينو ته د فولکلور او فولکلوري ارزښتونو په اړه ليکچر د لړم پر ۲۴مه ورکړ.

په دې علمي ناسته کې د لغمان پوهنتون پر رئيس او نورو مسؤلينو سربېره د دغه پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي استادانو او ګڼو ښځينه او نارينه محصلانو ګډون کړی و.

پوهاند ازمون د خپل دې ځانګړي ليکچر پرمهال د فولکلور پر پېژندنه، ارزښت او د ساتنې او بډاينې پر لارو چارو خبرې وکړې او د ژوند او فرهنګ ترمنځ يې پر نه شلېدونکو اړيکو رڼا واچوله.

هغه له ګډونوالو او په ځانګړې توګه د ادبياتو له زده کوونکو وغوښتل چې دا يې مسؤليت دی چې په دې برخه کې هر اړخيز کار وکړي او خپل اصيل فرهنګ نورو ته ور وپېژني.

ده وويل: کله چې موږ نړيوال ادبيات لولو، پوهيږو چې زموږ تر فولکلوريکو کيسو او فرهنګي ارزښتونو د دوی کيسې لوړې نه دي، خو دا چې هغوی کار ورته کړی او ځلولي يې دي؛ موږ ته هم په کار ده چې د خپل بډايه فرهنګ پر راسپاړلو کار وکړو.

استاد د سيمې فولکلوريک ارزښت ته په کتو وويل، هغه افکار چې د همدې لغمان ولسي شاعرانو محمد نور بابا، شيخ احمد خان، مفتي عبدالحنان او نورو وړاندې کړي، په نړيوالو ادبياتو کې نشته. تاسې وګورئ، زموږ فرهنګ کې د جنګ کلمه نشته، ټولې د مينې، امن، عاطفې، همدردۍ او ورورولۍ خبرې دي، موږ هيڅکله جنګ نه دی غوښتی؛ تاسې تاريخ مطالعه کړئ، دا جنګونه تل پر موږ تپل شوي. تاسې د همدې لغمان دې خړو پړو کليو ته په سپک نظر مه ګورئ، همدې اخوند درويزه، ګل پاچا الفت او لسګونه نوميالیو له همدغو خړو کورونو سرونه را اوچت کړي دي.

سرچينه: https://www.facebook.com/socialandacademic

د پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون علمي او ادبي هڅې وستايل شوې

د کونړ د فکر او قلم لارويانو په علمي، فرهنګي او ادبي برخو کې د پوهاند ازمون هڅې د لړم پر ۲۵مه وستايلې او هغه يې د هېواد په کچه يو وياړلی نوم وباله.

پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون د تخليق او تحقيق په برخو کې لسګونه اثار پښتو ژبې او ادب ته وړاندې کړي دي.

د کونړ د فرهنګيانو په استازيتوب نظام الدين ماليار، حشمت ژمن، محمد رضا زهير، محمد شعيب غروال، عبدالغني هاشمي د استاد پر ژوند، اثارو او افکارو خبرې وکړې او ويې ويل، پوهاند ازمون پښتو ژبې ته ستر کار وکړ، تر هغه چې پښتانه ژوندي وي، د استاد ياد به ژوندی ساتي.

په پای کې د کونړ فرهنګيانو استاد ته د اعزاز پګړۍ ور په سر کړه.

سرچينه: د "کونړ اطلاعات او فرهنګ رياست" فېسبوک پاڼه.

"فولکلور د يوه ملت هويت او پېژندنه ده"

په علمي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار او د کابل پوهنتون استاد پوهاند ډاکټر لعل پاچا ازمون د کونړ ولايت د سيد جمال الدين افغان پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي محصلينو ته د فولکلور د ارزښت او ساتنې په اړه تر پورته سرليک لاندې ليکچر ورکړ.

په همدې اړه د لړم پر ۲٦مه جوړو شو مراسمو کې پر ګڼو ښځينه او نارينه محصلانو سربېره د ياد پوهنتون مسؤلينو او استادانو او په کونړ کې د ازادو علمي او فرهنګي ټولنو او بنسټونو مشرانو او غړو هم ګډون کړی و.

استاد لومړی د فولکلور او د هغه د ارزښت په اړه د ناستې ګډونوالو ته هر اړخيز معلومات وړاندې کړل او هغوی يې د فولکلور ساتنې، بډاينې او له شفاهي ادب څخه ليکنۍ بڼې ته د فولکلوريکو کيسو او ارزښتونو اړونې ته وهڅول. ده په ټينګار سره وويل چې موږ د نړۍ تر هر هېواد بډای فرهنګ لرو، خو نړيوالو خپل فرهنګ ته د پام وړ کار کړی او موږ دې برخې ته ډېره پاملرنه نه ده کړې.

نوموړي د هېواد د فولکلوريکو کيسو، پېښو، حماسو او حقايقو پر وړاندې کولو افغاني فرهنګ بډای، سوله‌ييز، د مينې او محبت الګو او ويار وباله او د غونډې ګډونوالو ته يې د خپل ويارلي فرهنګ د درنښت او لا بډاينې سپارښتنه وکړه؛ له هغوی يې وغوښتل چې د خپل فرهنګ او فولکلور لرغونې بېلګې راټولې او دې برخې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.